PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

الهي لارښوونې

ای مؤمنانو! رکوع او سجده وکړئ، د خپل رب عبادت وکړئ. نیکیو ته ملا وتړئ. تر څو مو خلاصون په برخه شي. د الله په لیار کې داسې حق جهاد وکړئ چې دهغه سره ښایي. هغه تاسو غوره کړی یئ او په دین کې یې په تاسو کوم سختوالې او تنګي نه ده ټاکلې. د خپل پلار ابراهیم پر ملت ټینګ ودرېږئ او الله پاک پخوا هم تاسې مسلمان نومولي واست او په دې قرآن کې هم ستاسې همدا نوم دی. (سورة الحج : ٧٦ - ٨٨)

نبوي ارشاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:
هر چا چې خپل ګاونډي ته تکلیف ورسول هغه ماته تکلیف ورسول، او چا چې ماته تکلیف ورساو هغه الله ته تکلیف ورساو، چا چې له خپل ګاونډی سره جنګ وکړ هغه له ماسره جنګ وکړ او چا چې له ماسره جنګ وکړ هغه له الله سره جنګ وکړ. (ترغیب او ترهیب)

شهادت دویم کال، ۸۸ مه ګڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د مرغومی لومړۍ د۱۴۳۱ هـ ق د محرم الحرام ۱۵ مه د۲۰۱۰ م د دسمبر ۲۲ مه

وحید عمر:

شورای ملی جدید در ۲۰ جنوری ۲۰۱۱ به کارش آغاز می کند

کابل، رسانه ها:
درست چهار ماه بعد از برگزاری انتخابات ولسی جرگه افغانستان، شورای ملی که متشکل از دو مجلس است، افتتاح خواهد شد.
سخنگوی ریاست جمهوری افغانستان دیروز یک بار دیگر تایید کرد که شورای ملی در بیستم جنوری به کار خود آغاز خواهد کرد.
پس از وارد شدن اتهامات در مورد تقلب و تخطی های گسترده در انتخابات ولسی جرگه، نتایج این انتخابات تحت سوال بسیاری از حلقات به شمول لوی څارنوالی افغانستان قرار گرفت.
شورای ملی افغانستان متشکل از دو مجلس است، ولسی جرگه و مشرانو جرگه.
بر اساس قانون اساسی افغانستان، اعضای مشرانو جرگه انتصابی بوده و از سوی رییس جمهور تعیین می شوند.
وحید عمر سخنگوی ریاست جمهوری افغانستان دیروز در کابل به خبرنگاران گفت که رییس جمهور کرزی سرگرم تهیه فهرستی از اعضای انتصابی مشرانو جرگهء افغانستان است.
آقای عمر هم چنان آوازه های را رد کرد که

پاتی ۳ مخ

د امریکا خاص ځواکونه د ځکنیو عملیاتو لمن پاکستان ته غځوي

امریکا، تاند:
نیویارک ټایمز ورځپاڼې راپور ورکړ چې په افغانستان کې مېشت امریکایي قومندانان په دې لټه کې دي چې د خاصو ځواکونو د عملیاتو لمن د پاکستان قبایلي سیمو ته وغځوي چې باور کېږي سخت دریځو پکې پناه اخیستې ده.
نیویارک ټایمز د امریکایي مقاماتو له قوله لیکلي چې د دغه هیواد قومندانان باور لري چې د خاصو ځواکونو عملیات کېدای شي سخت دریځي د تحقیقاتو لپاره ونیسي او ګټور استخباراتي مالومات ترې واخلي.
ورځپاڼې دا راپور تېره شپه ناوخته په خپله ویبپاڼه کې خپور کړی او د هغو امریکایي مقاماتو نومونه یې نه دي اخیستي چې په دې اړه یې مالومات ورکړي دي.
امریکایي پوځیان یونیم کل د افغانستان له خاورې پاکستان ته اوښتي خو د پاکستان له سخت انتقاد سره مخامخ شوي مګر د بې پیلوټو الوتکو په وسیله یې بمباریو ته دوام ورکړی دی.
نیویارک ټایمز وايي چې اوس په پام کې ده

پاتی ٤ مخ

لویه څارنوالي:

د محکمې له پریکړې پرته د نوې ولسي جرګې پیل غیرقانوني دی

تاند:
د کابل چاپ د سرنوشت ورځپاڼې له راپورسره سم د لوېي څارنوالی د عرایضو او شکایتونو مسوول حفیظ الله حفیظ په یوه خبري غونډه کې ویلي دي چې څو پورې د انتخاباتو په دوسیو باندې د محکمې وروستی حکم نه وي اعلان شوی، د ولسي جرګې د نوې دورې پرانستل غیر قانوني دي.
ښاغلي حفیظ دا څرګندوونې وروسته له هغه کړې چې په کابل کې صاحب نظرو اندیښنه څرګنده کړې ده چې د انتخاباتو کمیسیون به په هغه دغه وخت واړوي او د تحقیق پروسه به اوږده کړي او په دې منځ کې به د ولسي جرګې د نوې دورې وخت راورسیږي. تیره اونۍ د ولسمشر کرزي ویاند وحید عمر ویلي

پاتی ٤ مخ

امریکايي چارواکي د افغان جګړې پر سر ویشل شوي

امریکا، تاند:
یو ایس ټوډې ورځپاڼې تر دې سرلیک لاندې (د افغانستان په جګړه کې د اوباما انزوا مخ په زیاتېدا ده) په امریکا کې د افغانستان له جګړې سره د امریکایانو د ملاتړ او مخالفت د اندازې جدول او له ۲۰۰۱ څخه تر اوسه پورې په افغانستان کې د امریکايي پوځیانو مخ په زیاتېدونکو تلفاتو ګراف خپور کړی دی.

د دې ورځپاڼې له مخې امریکایان اوس د افغانستان د جګړې په باب سره وېشل شوي. په هرو لسو کې څلور له افغانستانه د امریکایي عسکرو د ایستلو غوښتونکي دي.
ورځپاڼې د افغانستان د جګړې د اهمیت په اړه د ځینو امریکايي چارواکونظرونه اخیستي چې وايي د افغانستان جګړه په دې نه ارزي چې امریکا پرې دومره د سر ومال تاوان ومني.
د تلفاتو په ګراف کې ښودل شوي چې په ۲۰۰۱ کال، چې امریکایی ځواکونو د طالبانو رژیم پرزاوه، یوازې شپږ تنه امریکايي پوځیان وژل شوي وو خو سږکال چې لا یوه میاشت یې پاته ده، د امریکایي سرتېرو د تلفاتو شمېر۴۵۵ تنو ته رسېږي.
د ورځپاڼې له مخې د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر په اتمه په سلو کې ۹ امریکایان افغانستان ته د عسکرو د لېږلو مخالف ول خو اوس په سلو کې ۳۹ امریکایان په افغانستان کې د امریکایی

پاتی ۳ مخ

صد ها ملیون دالر امریکا از سال ۲۰۰۲ به این طرف در افغانستان ضایع شده است

رادیو آزادی :
آرنولد فیلدز نمایندهء خاص امریکا برای امور بازسازی افغانستان می گوید، از سال ۲۰۰۲ میلادی تا حالا پول های ضایع شده و یا بی جهت مصرف شده امریکا، اگر به میلیارد ها دالر نرسد، به صد ها ملیون می رسد.
به گفته او، به هدف مصرف پول در افغانستان، کنترول مناسب وجود ندارد.
دفتر مستقل آرنولد فیلدز، در سال ۲۰۰۸ به خاطر گشایش یافت تا از کمک های امریکا برای افغانستان نظارت کند.
محاسب های امریکایی می گویند که این کشور از سال ۲۰۰۲ میلادی تا حالا، ۵۶ میلیارد دالر را در افغانستان مصرف کرده اما در این زمینه هماهنگی درست صورت نگرفته است.
۲۹ میلیارد دالر از این مجموع در تشکیل و تقویت نیرو های امنیتی افغان و ۱۶ میلیارد آن برای امور بازسازی و تقویت حکومتداری مصرف شده است.
کارشناسان می گویند، سال های زیاد لازم است تا در افغانستان حکومتی ایجاد شود که خدمات ابتدایی را به مردم فراهم کند.
تعدادی زیاد از باشنده های قریه های

بقیه در صفحه ۴

یویشتمه پیړۍ، امریکا د سقوط په درشل کې

دویم مخ

هولبروک د افغانستان د تجزیې طراح

دریم مخ

ترکی الفیصل:

در بین مبارزات مردم افغانستان در زمان تجاوز شوروی و اقدامات تروریستی کنونی، تفاوت زیادی وجود دارد

ګران افغانستان :
ریاض:- سفیر سابق عربستان سعودی در واشنگتن تاکید کرد که در بین مبارزات مردم افغانستان در زمان تجاوز اتحاد جماهیر شوروی و اقدامات تروریستی کنونی، تفاوت زیادی وجود دارد.

پاتی ٤ مخ

امریکا یک "شبکه گسترده جاسوسی" تشکیل داده است

صدای آلمان :
روزنامه واشنگتن پوست گزارش داده است که حکومت ایالات متحده امریکا با وقوع حملات تروریستي یازدهم سپتمبر سال ۲۰۰۱ و توطئه هاي تروریستي ناشي از آن، یک شبکه گسترده جاسوسي براي جمع آوري اطلاعات تشکیل داده است.
این روزنامه به روز دو شنبه گزارش داد که ایالات متحده امریکا به این منظور از اداره بازجویي فدرال (اف بي آي)، پولیس محلي، دفترهاي وزارت امنیت داخلي و بازجویان امور جنایي استفاده مي کند.
این شبکه جاسوسي در مورد ده ها هزار تن از شهروندان ایالات متحده امریکا اطلاعات جمع آوري نموده، آن را نگهداري و تحلیل مي کند. بسیاري از این افراد متهم نیستند و کدام سابقه خلاف کاري ندارند.
هدف حکومت ایالات متحده امریکا این است تا هر اداره حکومتي و پولیس محلي، با

پاتی ٤ مخ

امریکا په افغانستان کې د ویتنام په څېر وحشت نه کار اخلي

روهي ویب:
امریکا دعوا کوي، چې د اوباما د نوې ستراتیژۍ په برکت یې د افغانستان په سویل کې ښې بریاوې ترلاسه کړي او د کندهار په دریو ولسوالیو ارغنداب، ژیړي او پنجوایي کې یې پرمختګ کړی دی. امریکايي رسنۍ او په سر کې نیویارک ټایمز لیکي، چې دغه بریاوې په واقعیت کې د امریکایي ځواکونود ماتې پیلامه ده، ځکه چې جنرال پتریوس هغه کوي د ډېرو وحشیانه تاکتیکونو له لارې ځان بریالی وښیي. د نیویارک ټایمز په وینا جنرال پتریوس په کندهار کې د عملیاتو په لړ کې هر هغه کور چې دوی نه وي نیولی او شکمن ورته ښکارېده، په توغندیو، بولډوزرونو او نورو پرمختللو درنو وسلو والوزولو. دد دغو کورونو

پاتی ٤ مخ

سرلیکنه

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د ظالم او مظلوم جګړه

په نړۍ کې دوه ډوله انسانان تر سترګو کېږي. يو ظالم او تيرې کوونکی بل مظلوم او دفاع کوونکی، ظالم غواړي چې د مظلوم دفاعی قابليت له منځه يوسي او خپله خوښه ورباندې تحميل کړي، مګر د مظلوم عزم دا وي چې د ظالم هجوم په شا وتمبوي او له خپلو حقوقو دفاع وکړي.

ظالم د خپل بد متکبرانه عادت له لاسه مجبوروي چې خامخا مظلوم ته ماتې ورکړي او مظلوم خپلې عقيدې، او د ځان و مال خپلواکی ديته اړ کړې وي چې د ظالم په خلاف کلک مقاومت وښايي او هغه پر شاتګ مجبور کړي.

ډېر کم داسې شوي دي چې ظالم او تيرې کوونکي د مظلوم په پرڅولو بريالې شوي او دهغه پر هر څه قابض شوی وي. خو داسې ډېر شوی چې د مظلوم مقاومت او سرښندنه د ظالم يرغلګر د ماتې او پريشانۍ سبب شوی، چې ثبوتونه يې د تاريخ په پاڼو کې خوندي دي.

د ظالم او مظلوم ترمنځ جګړه پرون هم روانه وه او نن هم روانه ده سبا ته به هم روانه وي. تر څو پورې چې دا دنيا او انسانان وي د ظالم او مظلوم ترمنځ جګړه به روانه وي، خو د جګړو تر څنګ تل د سولې هڅې هم شوی دي، چې نړۍ او د نړۍ انسانان د جنګ له تورو لوخړو او لمبو څخه خلاصون بيامومي. خو پوښتنه داده چې رښتونی سوله کله منځ ته راتلې شي او انسانيت کله د امن له حقيقي نعمت څخه برخمن کيدی شي؟ ددې پوښتنې صحيح او څرګند ځواب دادی چې کله ظالم د خپل ظلم او ناروا څخه لاس واخلي، د کمزورو د حقوقو بشپړ رعايت وکړي، هغوی هم د خپلو ځانونو په څېر انسانان وګڼي، هغه څه چې د خپلو ځانو لپاره خوښوي هغوی لپاره يې هم خوښ کړي.

د ظالمانو په شرايطو او خوښه خو څکه سوله نشي کيدلې چې ظلم د سولې ضد دی او دواړه پخپلو کې د اور او اوبو مثال لري، د ظلم پر خلاف به جنګ ضرور سراوچتوي او مظلوم به له مظلوميت نه د نجات په خاطر خامخا تر آخري سلګی هلې ځلې کوي، نو پداسې وخت کې د عقل او منطق غوښتنه داده چې ظالم د خپلو ظلمونو څخه لاس په سر شي، هغه دی دا بې ځايه او ناروا غوښتنه نه کوي چې دهغه شرايط دې ومنل شي.

په اوسني وخت کې امريکا او دهغه اتحاديان په افغانستان او عراق کې مستقيم پوځي حضور لري او د نړۍ له نورو ډېرو هېوادو سره يې اړيکې ترينګلي او خصمانه دي، غوښتنه يې داده چې ټوله نړۍ دهغه باداري ومني او هېڅوک دې دهغوی په خلاف ژبه نه خوځوي.

د تېرو لسو کلو راهيسې په افغانستان کې د بم او باروتو جنګ روان دی د ترهګرۍ د ختمولو تر مقدس عنوان لاندې د افغانستان بې ګناه وګړي د بم او باروتو په لمبو کې وريتيږي، د ترهګرۍ په خلاف د جګړې په تمس کې پر افغانانو د ترهګرۍ حملې کيږي، د افغانستان خاوره عملاً د امريکا او ناټو پوځيانو دلاسه د ترهګرۍ اډه ګرځېدلې ده او هره ورځ لسګونه بې ګناه افغانان د ترهګريزو يرغلونو ښکار کيږي.

که چېرته د امريکا د نړيوال تجارتي برجونو نړول او په هغو کې د دوه زرو کسانو وژل ترهګري کيدلې شي نو د تېرو لسو کلو راهيسې په افغانستان کې د زرګونو بې ګناه ولسي وګړو وژل او دهغوی کورونه او کوډلې ورانول څنګه د ترهګرۍ په تعريف کې نشي راتلې؟! افغانان به تر څو د هغوی د ظلم او وحشت په وړاندې خپل عکس العمل نه ښکاره کوي او تر څو پورې به د قرباني ګډورې جوړيږي؟

امريکا او دهغې ملګرو چې په افغانستان کې د ظلم او استبداد کومه لويه شروع کړې دا د ترهګرۍ بدترين باب دی.

که امريکا او دهغه ملګري هېوادونه غواړي چې د ظلم دروازه بنده شي نو ددې يواځينی غوره لاره داده چې هغوی په لومړی قدم کې د ظلم، تيری، استکبار او استعلا غوښتنې له پاليسی څخه په کلکه ډډه وکړي او په دې خبره دې ژور غور وکړي چې د نړۍ زياتره وګړي ورسره ولې کرکه لري؟ هغه کوم وجوهات او لاملونه دي چې د نړۍ زياتره هېوادونه له هغې نه ويره محسوسوي؟ دهغې په خلاف د القاعدې په څېر يو نړيوال تنظيم ولې او په کوم اساس جوړ شو؟ شمالي کوريا، کيوبا، ايران، ويتنام، ليبيا، شام، عراق، افغانستان، روسيه، چين، وينزويلا او په لسګونو نورو هېوادو وګړي ولې له امريکی څخه کرکه لري؟ دا ټولې هغه پوښتنې دي چې که امريکايي چارواکی او ولس ورباندې د زړه له تل نه غور وکړي نو په يقينی ډول وړاندوينه کيدلې شي چې د اوسنيو روانو جګړو څخه به تر ډېره حده پورې نړۍ په امن شي.

يويشتمه پېړۍ، امريکا د سقوط په درشل کې

عبدالرحمن فرقانی

کله چې د مريض ناروغي سخته شي، نو مختلفوو ډاکټرانو او طبيبانو ته مخه کړي، پدې هيله چې کيدای شي کوم نه کوم ډاکټر د هغه د ناروغۍ د درملنې لپاره اغيزمنه نسخه وليکي، خو دا په حقيقت کې د مرض هغه مرحله وي چې د ناروغۍ علاج ناممکن شوی وي، ناروغي دومره ژوره اوخطرناکه شوې وي چې علاج په هيڅ صورت کې امکان پذير نه وي.

امريکا نن په نړۍ کې او په ځانګړې توګه په افغانستان کې داسې مرحلې ته رسيدلې چې که هر څومره خپلې استراتيژۍ بيا بيا له سره وګورې، او پکې تغيير اوبدلونونه راولي، ګټه نه لري، ځکه چې امريکا خپل مرض داسې مرحلې ته رسولې چې درملنه ئې ګرانه ده، د استکبار او استعمار مرض، دنړۍ د نورو هيوادونو په سياسي او اقتصادي برخليک باندې د حاکميت مرض، د نورو د ثروتونو د غارتولو مرض .. د دغه مرض په پايله کې امريکا د نړۍ په ګن شمير هيوادونو کې دجبر، ظلم، وحشت، ترور، .. تګلاره او سياست خپل کړی دی، د نظامی، اټمي او تکنالوژۍ قوت په ذريعه په خلکو کې خپل هيبت خپروي.

په دې کې شک نشته چې دروسانو د امپراتورۍ په نړيدو سره امريکا د نړۍ ديکه تازه نظامي قوت په څيرسر راپورته کړ، د نړۍ په سطحه د روسي امپراتورۍ له سقوط څخه وروسته امريکا ته د نړۍ پرمخ نظامي سيال پاتې نه شو، نو ئې د خودخواهی زوړ خيال په سر کې را تازه شو، او د خپلې استعماري کړۍ د وسعت لپاره ئې د اسلامي نړۍ په ځينو هيوادونو نظامي يرغلونو ته لاره هواره کړه، او عملا ئې ځينې هيوادونه تر خپل اشغال لاندې راوستل، چې لدې هيوادونو څخه يو هم د افغانستان کړيدلی او جنګځپلی هيواد دی، د يرغل په لومړيو شپيو کې د امريکا عسکري او استخباراتي دواړه شبکې پدې باور وې چې افغانستان له يوې اوږدې جګړې څخه راوتلی هيواد دی. او هغه يوازېنی هيواد چې د دوی وجود ته په افغانستان کې ګواښ رامنځ ته کولای شي هغه هم نوی په افغانستان کې داسې مات شوی چې حتا جغرافيايی نقشه ئې هم بدله شوه، نو لدې کبله به دوی ته په افغانستان کې دپام وړ ګواښ او کړکيچ پيدا نه شي، او د همدې ليد لوری پربنسټ ئې د ناټو پيمان غړی هيوادونو ته هم قناعت ورکړ چې لدوی سره ملګري شي.

له بل لوری هغو سياسی قوتونو او شخصيتونو هم چې د لويديځ د ديموکراسی پا اساس ئې په افغانستان کې يو ديموکرات حکومت غوښت امريکا ته ډاډ ورکړ چې افغانستان د يوې اوږدې جګړې څخه راوتلی هيواد دی او ملت ئې جګړيز حالت ډېر کړولی دی، نو د ديموکراسی په چاپيريال کې يو لويديځ ډوله حکومت ته چمتو دی. پدې کې شک نشته چې رېښتيا هم دافغانستان زوريدلی ملت د ديرشو کالونو په اوږدو کې ډېر کړيدلی ؤ، او امنيت ته ډېر تږی ؤ، نو لدې خايه يوه لويديځ مشربه حکومت ته ئې چمتوالی ښود، د هر لحاظه زمينه دې ته برابره وه چې پر ته له کومې ويرې او ډار څخه امريکا پرافغانستان نظامي تجاوز تر سره کړي او د خپلې استعماري کړۍ په دايره کې ئې راولي.

دا خو ټولو ته څرګنده ده، چې د امريکا داستعمار تل پاتې شعار د ديموکراسي پلې کول دی، افغانستان ته هم د همدغه شعار تر نامه لاندې راغلي دي، او د افغانستان کړيدلی ملت هم هيله من ؤ چې دا شعار به په افغانستان کې عملي شي، د وخت په تيريدو سره په افغانستان کې د ديموکراسی پرخلاف مغاير حرکت روان شو، بې امنيتي ورځ تر بلې ډيريدله، د خلکو ژوند د اشغالګرو ځواکونو د خود سرانه عملونو له کبله له ګواښ سره مخ شو، د دولت او ملت تر منځ فاصله ورځ تر بلې ډيريدله، نا چاره خلک د دغو ذايفو وعدو له خاوندانو څخه په تيښته شول او د هغو طالبانو ليکو ته ئې مخه کړه چې د هغوی له کړو وړو څخه ئې هم ښه خاطره نه لرله، او ورنه زوريدلي وو، د اشغالګرو ځواکونه په وړاندې د مقاومت دپاڅون نطفې وده وکړه، او د بهرنيو ځواکونو په وړاندې کړکيچونه راپيدا شول.

دامريکا زاړه سيال روسيې هم حالات په ډير غور څارل او په افغانستان کې ئې په امريکا او دناټو په قوتونو غير مستقيم فشار راوست، چې په سياسي اړخ کې ئې دافغانستان په داخلي کشالو کې له خپلو لاسپوڅو افغاني سياسی ډلو څخه استفاده کوله او په نظامی اړخ کې يې د اکمالاتي لارو په تامين کې خنډونه رابرسيره کول. د ناټو او امريکا د ځواکونو د نظامي اکمالاتو لپاره اکثريت موثره لارې د روسيه په واک کې دی او يا دهغو هيوادونو په لاس کې دي چې تر اوسه د روسيه په کړۍ کې ځان بولي، پرته له يوې لارې څخه چې د خيبر لار ده او هغه د يرغلګرو ځواکونو د دښمن تر بريد لاندې دی، نو ځکه د هغه لارې څخه استفاده ورته زيانمنه پريوته، او په دې لاره د ناټو او امريکا اکمالاتو ته ډير زيان اوړل شوی دی.

له کومه ځايه چې افغانستان د سيالو هيوادونو د زور آزمايي ډګر شو، نو هر لوری هڅه وکړه چې خپل رقيب په افغانستان کې په ګونډو کړي، په سياسي او نظامي کچه هر هيواد زيار وباسي چې په افغانستان کې خپل رول ولوبوی، په افغانستان کې د هند د مصلحتونو پر ضد د پاکستان نظامي حملو هم د هند دا راز احساس پياوړې کړي چه ګواکي د افغانستان په سياسي ډګر کې د پاکستان پر ځان اعتماد پوخ شوي دي، چيرته چه د هند سياسي او اقتصادي نفوذ تر يرغل لاندې نيسي. که د طالبانو د حکومت پر مهال د هند نفوذ په افغانستان کې محدود شوي و، خو دښاغلي حامد کرزي د حکومت په لړ کې هند خپل نفوذ په افغانستان کې پراخه کړ تر څو وکولي شي د دوي په عقيده د هغو تندروانو مخنيوي وکړي چې کيدلاي شي کشمير ته لدې سيمې نه ورواوړي، او د پاکستان په ګټه عمليات تر سره کړي، لدې کبله يې په افغانستان کې قونسلګرۍ خلاصي کړي اوسربيره پدې يې په افغانستان کې د بيا رغونی دپرګرامونو تر نامه لاندې خپلې پټې توطيئې په لاره واچولې.

ايران هم د لويديځ پرمټو او لاربښونه خپل پراخه فرهنګي او ديني يرغل ته په افغانستان کې لاسونه رابډ وهلی دي، او هغه دنده چې په لويديځ کې د يهودانو په لاس کې ده، هغه دنده ئې په افغانستان کې په لاس کې اخيستی ده، (په مطبوعاتو او رسنيو باندې حاکميت)، ځکه چې دوی په دې ګمارل شوی چې تر هر څه وړاندې بايد په مطبوعاتو اورسنيو برلاسی وي، که غواړی چې د اسلامی نړۍ زعامت تر لاسه کړي.

پداسې يو کړکيچن حالت کې امريکا او دناټو ځواکونه د يوه نا ختمدونکې جنګ سره په افغانستان کې مخ شول، د جګړې مادي لګښت او بشري مرګ ژوبله په اوږده مهال کې د دې موجب شول چې د امريکا په داخل کې د حکومت په وړاندې ملي نيوکې ډيرې شي او حکومت دې ته اړ کړي چې د جنګ د ګټلو او يا ختمولو لپاره څه نوې ستراتيژي کيږدي، همدا راز په اوروپا کې هم د اتحاديو له اړخه فشارونه پر دولت ډير شول چې د دغې بې موخې جګړې څخه چې د دوی د اقتصاد په زيان تماميږي لاس په سر شي. دا راز عوامل په وار وار د دې لامل شول چې د امريکا حکومت دافغانستان دجګړې لپاره خپلې ستراتيژۍ بيا له سره وڅيړي او تغيرونه او تبديلونه پکې رامنځ ته کړي.

ډير کتونکي په دې اند دی چې امريکا دا جنګ په افغانستان کې بايللی دی، او د يويشتمې پيړۍ په اوږدو کې به د روسانو دامپراتورۍ په څير په افغانستان کې سقوط وکړي، خو دا چې د امريکا دسقوط نه وروسته به افغانستان په څه انجام آخته کيږي د دې وړاندوينه ګرانه بولي، او په اقتصادي کچه دچين، هند او روسيې څخه يادونه کيږي. چې د امريکا اقتصادي امپراتوري يې له ګواښ سره مخ کړې ده، او کيدای شي چې دا کار د دې لامل شي چې د سياست، اقتصاد او نفوذ دثقل مرکز د ځمکې د کرې له لويديځ څخه ختيځ ته انتقال شي.

(والله اعلم)

هولبروک د افغانستان د تجزیې طراح

بینوا ویب پاڼه

دګران هېواد افغانستان دتجزیې طراح او دافغانستان او پاکستان لپاره دامریکا ځانګړي استازي ریچارډهولبروک دزړه دشیریان دبندیدو له لامله په روغتون کې ساه ورکړه، ۶۹ کلن هولبروک دامریکا دبهرنی دیپلوماسی لپاره ډیر کارونه کړي چې ښایي امریکایي چارواکي یې په مړینه سخت غمجن وي.

خو دافغان او په ځانګړې توګه دپښتنوسیاستوالو لپاره به بیا دا دپیغور خبره وي چې دهولبروک په مړینه خواشیني ځرګندوي ځکه له دې سره سره چې افغانستان په خپل منځ کې د کورنیو امنیتي، سیاسي، اقتصادي اوټولنیزو ستونزو سره لاس او ګریوان و؛ دغه امریکایي سیاستوال دافغانستان دتجزیې پلان طرحه او دافغان- غربي اجنټانوسره یوځای یې دپلي کولو هڅه کوله.

ده څه موده وړاندې یې په لندن کې د یوې افغاني ډلی د لیډرانو سره یوځای د افغانستان دتجزیې دپلان په اړه خبرې وکړې خو له بده مرغه چې ددې ډلې لیډرانو دتجزیې دغه طراح هم له لاسه ورکړ!!!

راځو دیته چې دهولبروک دزړه چاودنې اصلي لامل څه و.

په دې کې شک نشته چې افغانستان ته هر یرغلګر په خپلو پښو راغلی خو له نیکمرغه چې په روغ بدن دبیرته وتلو چانس یاري نده ورسره کړې، دکلونو پخواني غښتلي ځواک انګلیس هم خپل قسمت وازمایه خوپچه یې ښه ونه ختله، دوخت زبرځواک پخواني شوروي اتحاد هم په افغانستان یرغلګروکړ خو د روغ وتلو چانس ورسره ملتیا ونکړه خپله پخواني شوروي اتحاد له سیاسي او اقتصادي پلوه له وژونکي ګزار سره مخ شو، شوروي اتحاد ټوټې ټوټې او په بیلابیلو جمهوریتونو وویشل شو ددوی تر استعمار لاندې هېوادونه خپلواک شول.

دافغانستان د کړکیچ له امله دشوروي اتحاد دوخت دریو مشرانو لکه برژنیف، کنستانتین چرینکوف، او ولادیمیر اندروپوف هم په ډیر کم زماني واټن کې دزړه د دریدو له امله دمرګ غیږې ته ورغلل.

دامریکا متحده ایالاتونو دیرغل په لومړیو کې دشوروي اتحاد دهغه جنرال مشوره چې له افغانستان څخه یې دروسي ځواکونو د وتلو مشري کوله، هم ونه منله چې اوس دافغانستان پوځي کړکیچ دې حالت ته ورسید چې سیاستوال ښاغلي ریچارډ هولبروک ته یې دزړه ناروغي پیدا او دمرګ کندې ته یې ورټیل وهلو.

تردې وړاندې چې جنرال ډیویډ پیتریوس په افغانستان کې د امریکایي اوناټو ځواکونو عمومي قوماندان وټاکل شو او کله یې چې دامریکا دمشرانو جرګې استازو ته معلومات ورکول نو د پوښتنو او دافغانستان دجګړې ډګر دسختوالي له امله ورباندې بیهوښي راغله اوپه مشرانو جرګه کې بیهوښه پروت و، چې دمشرانوجرګې داستازو لخوا له دغه جرګې نه ځنځولی وایستل شو.

زه وایم هغه وخت لرې ندی چې دامریکا نور مشران هم دزړه د ناروغی او یا نورو روحي او رواني ناروغیو له امله خپل ژوند له لاسه ورکړي او یا هم ښایي خپله دامریکا ولسمشر بارک اوباما به دافغانستان دکړکیچ له امله په همدې سرنوشت اخته نشي.

داچې دامریکا چارواکي او یاهم په خپله دامریکا ولسمشر دې حالت ته ونه رسیږي غوره ده چې بارک اوبا له افغانستانه خپل پوځونه وباسي او دپوځي لارې پرځای بله لاره ولټوي ترڅو له یوې خوا د افغانانو، او له بله پلوه دامریکا او ناټود نازولو عسکرو ژوند خوندي شي دغه راز دافغانستان د کړکیچ له امله به دښاغلي اوباما ژوند له ګواښ سره نه مخ کېږي.

ستره محکمه دې د ملي بحران مخه ونیسي

ډاکټر محمد شفیع اوریاخی

د ټولټاکنوخپلواک کمیسیون رئیس ملا! معنوی صیب توندې اوغیرمسوولانه خبرې دې ته وهڅولم چې د ټولټاکنو په اړه لړ څه ولیکم. معنوی صیب د هر قانون څخه ځان پورته بولي او په تنده لهجه لوی څارنوالي او سترې محکمې ته اخطارونه ورکوي چې هیڅوک نه شي کولای د ټولټاکنو په باره کې څیړنه او تحقیقات وکړي او د ټاکنو پایلې باطل اعلان کړي که چیرې داسې وشي نو د معنوي صیب په خبره به ملي بحران رامنځته شي.

پوښتنه دا را ولاړیږی چې آیا د درغلیو څیړل او درغلي کوونکو کسانو محاکمې ته کشول او هغوی د خپل اعمالو سزا ته رسول د بحران سبب ګرځی؟!

زه نه پوهیږم چې معنوي صیب ولې دې ته فکر نه کوي چې په دې ټاکنو کې ټولو افغانو ته د ګډون زمینه نه وه برابره شوې او دا ټاکنې په هیڅ وجه د اساسي قانون مطابق نه ده شوې او نور زر رنګه فساد چې په ټاکنو کې شوې پر دې ټولو سترګې پټوی او پر خپلو خبرو ټینګار کوي.

د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون رئیس صیب پر دې فکر نه کوي که چیري هغه کسان چې په غیر قانوني ډول (د ټوپک په زور، د پیسو په زور، د ایران او پاکستان منافعو مدافعین او...) د افغانستان قانون جوړونکي شي نو بیا به څه حال وي دا ورته بحران نه ښکاري؟! افسوس پر داسې کسانو.

په اصل کې د ټولټاکنو او د شکایتو کمیسیونونه ونه شو کړی چې خپلې دندې په صحي توګه سرته ورسوی او په ټولټاکنو کې د درغلیو مخه ونیسی او یا څیړنه وکړي او په خپل سر په یو طرفه ډول ددې نه بغیر چې د لوی څارنوالی ادعاو ته غوږ کیږدي د ټولټاکنو پایلې یې اعلان او د کړکیچ پیل یې وکړ. معنوي صیب خپل دلیل داسې بیانوي چې بهرني هیوادونه د ټولټاکنې ملاتړ کوي، خو پر دې فکر نه کوي چې بهرنی هیوادونه لکه امریکا او اروپایي هیوادونه د خپل ۹ کلنی اشغال په دوره کې هیڅ لاسته راوړنه نه درلوده او په دې لاره هغوی غواړي چې ټولې نړی ته خپل بریا څرګند کړي چې مونږ په افغانستان کې آزاد او سرتاسری ټولټاکنې وکړې او پر خلکو باندې دا ټاکنې ور تپل غواړي ترڅو خپلو اهدافو ته ورسیږي.

دا خبره خو ټولو ته څرګنده ده چې بهرني ناظرین په ټاکنو کې نورې سیمي خو لا پریږده چې حتا د کابل په حوزو کي حضور نه درلوده نو د هغوی خبرې څنګه دلیل کیدای شي(؟!) چې دا ټاکنې منصفانه او له درغلیو پاک ټاکنې وې، هغوی په کوم دلیل دا ټاکنې تاییدوی چې شفاف او قانونی ټاکنې دي؟

په آخره کې دا د سترې محکمې مسوولیت جوړیږی چې د حقایقو په نظر کې نیولو سره د افغان ولس په ملاتړ دا ټاکنې باطل اعلان کړي او د ملي بحران د رامنځته کیدو مخه ونیسی، د درغلي کوونکو او د ملت دښمنانو ته داسې سزا ورکړي چې په راتلونکي کې نورو ته د عبرت سبب وګرځي.

شورای ملی جدید در ۲۰ جنوری ...

گویا در نظر است تا تمامی کاندیدان بازنده انتخابات ولسی جرگه به عنوان اعضای انتصابی مشرانو جرگه معرفی شوند.

آقای عمر در ادامه گفت:

"احتمال دارد که یکی از نامزدان نا موفق به سنا راه پیدا کند و یا احتمال دارد که هیچ کس راه پیدا نکند، یعنی یک معیار برای این وجود ندارد که هر کس که در انتخابات نا موفق بوده، یا به مجلس سنا راه پیدا می کند و یا هم والی و یا ولسوال می شود."

بر اساس قانون اساسی افغانستان، دوره تازه تقنینی شورای ملی افغانستان، باید به تاریخ اول دلو آغاز شود.

به دنبال برگزاری انتخابات ولسی جرگه که با ادعا های تقلب به همراه شد، لوی څارنوالی افغانستان از ستره محکمه خواست تا نتایج انتخابات را باطل اعلان کند و در مناطقی که امکان دارد، انتخابات ولسی جرگه را دوباره برگزار کند.

این موضع لوی څارنوالی افغانستان تا حالا پا برجاست و در عین حال نامزدان معترض و ناکام می خواهند تا نتایج انتخابات ولسی جرگهء امسال باطل اعلان شود.

از جانب دیگر، در دو روز گذشته، پولیس افغانستان به اعضای قبلی ولسی جرگه اجازه نداده تا به جلسات خود ادامه بدهند.

آنها که اکثریت شان در انتخابات بیست و هفتم سنبله ناکام شده اند، خواهان ادامهء جلسات شان تا زمان روشن شدن فیصلهء ستره محکمه در مورد سرنوشت انتخابات امسال هستند.

امریکایي چارواکي د افغان ...

پوځیانو شتون سهوه بولي.

په سلو کې څلویښتو پوښتل شویو امریکایانو ویلي چې باید امریکایي پوځیان تر هغو په افغانستان کې وي چې ټاکل شوي هدفونه ترلاسه شي.

د مانویل المیدا لیکنه

منبع : اسپینا ان لاین، په ایتالیا کې د اسپین په نوم ان لاین ژورنال

لویدیځوال افغان جګړې ستومانه کړي

نړیواله ټولنه د افغانستان بیا رغاونې ته یوازې هغه وخت ژمنه شوه چې په دوه زره اول میلادي کال کې په نیویارک باندې القاعدې بریدونه وکړل. دا ژمنه ډیره ناوخته وه. اوس دغه ژمنه د لویدیځو هیوادونو د خارجه پالیسي د جوړوونکو له خوا نه بلکې د دغو هیوادونو د داخلي حالاتو په وجه له خطر سره مخ ده. د دغو حالاتو یوه نتیجه دا ده چې په افغانستان کې د اهدافو د بیا تعریف خبره کیږي او دا ویل کیږي چې لویدیځ باید په افغانستان کې یوازې خپل اصلي او لومړني هدف یعنې له افغانستان څخه د القاعده ایستلو او بیا چې څومره ژر کیدای شي، د خپلو عسکرو ایستلو ته ژمن وي.

یو سلو دیرش کاله پخوا په یو زر او اته سوه اتیایم میلادي کال کې یوه برطانوي قوماندان فریدریک روبرټس ویلي وو چې: زه په ډاډ سره وایم چې افغانان چې هر څومره موږ لږ وویني نو هغومره به له موږ لږ نفرت وکړي.

فریدریک روبرټس دا خبره په افغانستان باندې د انګریزانو له دریم لښکرلیږده وروسته کړې وه. د روبرټس په خبره که څه هم ډیره موده تیره ده، خو اوس داسې ښکاري چې د لویدیځ په پایتختونو کې یې بیا انګازه اوریدل کیږي. لویدیځ په افغانستان کې اوږده جګړه کړې او ډیرې پیسې یې لګولې دي. په لویدیځ کې خلک او مرسته کوونکي دې جګړې ستومانه کړي دي.

له یو څه مودې راهیسې په اکثرو لویدیځو پایتختونو کې دا خبرې کیږي چې ناټو او امریکا په افغانستان کې د یو سلو او څلویښت زره عسکرو ساتلو ته ضرورت نه لري، ځکه په افغانستان کې القاعده تر ډیره حده ځبل شوې او شړل شوې ده. اوس د عسکرو د کمیدا وخت دی. په لویدیځ کې اوس دا استدلال هم کیږي چې د القاعدې او طالبانو اجندا بیخي سره بیله ده. القاعده لویدیځ ته جنجالونه جوړوي خو طالبان د افغانستان لپاره پلانونه لري. په همدې وجه افغانستان د غرب لپاره نور جدي خطر نه دی.

دغه خبرې په افغانستان کې د مداخلې حد اقل او ابتدایي هدف بیانوي او د لویدیځ تر ټولو محدود توقعات راښیي.

دا سمه خبره ده چې القاعده په افغانستان کې خورا کمزورې شوې ده. لکه څنګه چې استخباراتي منابع اټکل کوي، همدا اوس په افغانستان کې د القاعده د کسانو شمیر د پنځوس او سل کسانو تر منځ دی. د همدې احصایې په بنیاد استدلال کیږي چې لویدیځ په افغانستان کې خپله دنده تقریبا ټوله ترسره کړې ده.

خو د دغه استدلال په مخالفت کې هم دلایل شته دي. مثلا د نیو امریکن فاونډیشن غړي پیتر برجین په دې وروستیو کې نیوزویک ته وویل چې د القاعده غوندې ډلو خو دا یو اصلي خصوصیت دی چې د غړیو شمیر به یې خورا کم وي. کله چې القاعدې په نیویارک باندې یرغل کاوه، نو د امریکا د فدرال پولیسو په قول، په هغه وخت کې یې هم شمیر یوازې دوه سوه کسه و. د دې ډلې اصلي رول دا دی چې نور وهڅوي او د حملو ټرینګ ورکړي.

له بلې خوا القاعده که تر ډیره حده له افغانستان څخه وتلې ده، نو لرې ځای نه ده تللې. د افغانستان په ګاونډ کې دیره ده او د پاکستان له خورا ایډیولوژیکو طالبانو او تشدد پسندو ډلو سره اوسي. که څه هم په پاکستان کې د امریکا د بې پیلوټه الوتکو حملې زیاتې شوې او د القاعده پلویان له فشار سره مخ دي، خو دوی د افغانستان او پاکستان تر منځ له سرحده د تګ راتګ لپاره تر اوسه پورې په کامیابی سره استفاده کوي او د افغانستان طالبانو ته مرستې رسوي. طالبان او القاعده که څه هم بیل پروګرامه او مقصدونه لري، خو همکاري یې کله زیاته او کله کمه، همیشه موجوده وه او ده.

که د لویدیځ نهایي او اصلی هدف دا وي چې په افغانستان کې دې سوله او ثبات راشي، نو دې مقصد ته د رسیدو لپاره یوازې دا شرط کافي نه دی چې القاعده دې له دغه ملکه وایستل شي. دې مقصد ته د رسیدو لپاره له دوه زره یولسم میلادي کاله وروسته هم له افغانستان سره د لویدیځ پیاوړي تعهد ته ضرورت دی.

خو حقیقت دا دی چې بارک اوباما، ډیویډ کامرون او انجیلا مرکیل په داسې شرایطو کې نه دي چې له دوه زره یولسم کاله وروسته له افغانستان سره پاتیدل دې ورته ډیر اسانه وي. په داسې حال کې چې د نړۍ اقتصاد لا په بحران کې دی، په افغانستان کې د کال یو سلو څلویښت میلیارده ډالره لګول، اسانه خبره نه ده. د دومره مصارفو په کولو باندې، هم ورځ په ورځ په لویدیځ کې انتقادونه زیاتیږي او هم یې د برابرولو امکانات کمیږي. د اروپا لیډران له ډیرې مودې راهسې دغسې احساس کوی او لکه څنګه چې باب وډ وارډ په خپل کتاب کې (د اوباما جګړې) لیکلي دي، اوباما هم دغسې احساس لري. په دې کتاب کې لولو چې اوباما په یوه خصوصي مجلس کې په دوه زره یولسم کال کې له افغانستان څخه په وتلو ټینګار وکړ او ویې ویل چې: زه دا نه شم کولای چې په افغانستان کې په پاتې کیدو سره ټول دموکرات ګوند له خانه خوابدی کړم.

په افغانستان کې د جګړې واقعیتونه او په لویدیځ کې د دې جګړې په اړه موجوده بې صبري له یو بل سره تناسب نه لري. د دغه تناسب د نشتوالي یوه اصلي نتیجه دا ده چې اوس یوازې د القاعده د ځبلو او په همدې یوه شرط له افغانستانه د وتلو خبرې کیږي.

دا چې په افغانستان کې جګړه چا ګټلې ده، او چا بایللې ده، مختلف ځوابونه لري. دې پوښتنې ته شنونکی، پوځیان او پالیسي جوړونکي بېلابېل ځوابونه ورکوي. څو ورځې دمخه د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د خاص استازي پخواني مرستیال پیتر ګالبریت او د جنرال سټانلي مکرسټیل پخواني سلاکار جنرال ګریم لامب په یوه مباحثه کې دې پوښتنې ته د ځواب په وخت څرګند ځواب نه درلود. خو هغو ژونالستانو او شنونکو چې په دې وروستیو کې یې افغانستان ته سفرونه کړي دي، ویلي دي چې په دغه هیواد کې یوازې کابل او مزارشریف داسې ښارونه دي چې طالبان پکې نه ګرځي.

د افغانستان په اړه په لویدیځ کې په دې خبره د رایې اتفاق موجود دی چې که لویدیځ له افغانستانه وځي نو په دغه هیواد کې باید یو داسې قوي حکومت موجود وي

پاتې ۴ مخ

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي ځانگه
د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
دارېکې شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
ایمیل
shahadatnews_kabul@yahoo.com
دیزاین: خواجه وحیدالله
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس: دحزب اسلامي دفتر
سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

لویدیځوال افغان جگړې ستومانه ...

چې ځان تېنگ کړی شي او د چارو مسولیت واخلي. دغه راز په دې تکي باندې هم د رایې اتفاق موجود دی چې په اوسني حالت کې د افغانستان پوځ او اردو هغومره مظبوطه نه ده چې د ناټو له شتونه پرته دې ملک وساتلای شي.

په دې منځ کې له طالبانو سره د سولې موضوع هم مطرح ده چې تر ډېره حده د کاغذونو په مخ لیدل کېږي. که چېرته په دې سلسله کې څه پرمختگ هم وشي، باید یاد ولرو چې د کورنیو جگړو د سولې خبرې اوږدې، نازکې او بې اعتباره غونډې وي. د نړی د نورو ملکونو تجربه خو همدا راته وایي.

که ناټو او امریکا له افغانستان څخه ووځي هم، خو د داسې دولت شتون چې ډېر متمرکز وي او د پوځ او اردو په شمول د خواب ورکوونکو او باثباته ادارو د جوړولو کار باید ادامه ومومي.

د امریکا خاص ځواکونه د مځکنیو ...

چې د خاصو ځواکونو عملیات هم په پر له پسې ډول پیل شي.

دا پلان به بنایي د امریکا د ولسمشر بارک اوباما له لوري تصویب شي. خو ممکن په پاکستان کې له عکس العمل سره مخامخ شي ځکه چې په دې هیواد کې د امریکایي پوځیانو حملې تېرې گڼل کېږي.

د پاکستان خاورې ته د خاصو ځواکونو د استولو مانا بنایي دا وي چې امریکایي قومندانان د هغو سخت دریځو په کنټرولو کې د پاکستان له هلوځلو مایوسه شوي چې د پاکستان په خاوره کې اډې لري او د دغه هیواد له خاورې څخه په استفادې سره په افغانستان کې جگړه پرمخ بیايي.

د نیویارک ټایمز ورځپاڼې د راپور په ځواب کې په واشنگټن کې د پاکستان سفیر حسین حقاني وویل: «پاکستاني ځواکونه دا وړتیا لري چې په خپله خاوره کې د سخت دریځو د خطر مخه ونیسي او هیڅ بهرني ځواک ته اجازه نشته یا اړتیا نشته چې زموږ په خاوره کې عملیات وکړي. موږ له خپلو متحدانو په تېره بیا د امریکا له متحدو ایالتونو سره کار کوو او د وسایلو په برخه کې د دوی د ملاتړ قدر کوو خو موږ به په خپله خاوره کې بهرني پوځیان ونه منو، دا زموږ ښکاره دریځ دی.»

د پاکستان سفیر همداراز وویل چې د متحدو ایالتونو لوی درستیز اډمیرل مایک مولن تېره اوونی پاکستان ته سفر وکړ او د پاکستان هلې ځلې یې تایید کړې. د ده د سفر په ترڅ کې په داسې هیڅ موضوع خبرې ونه شوې چې د پاکستان په خاوره کې عملیاتو ته اشاره ولري.

د پاکستان په خاوره کې د خاصو ځواکونو عملیات کېدای شي پر سخت دریځو فشار زیات کړي او یا ممکن د واشنگټن لپاره نوې ستونزې وزېږوي.

نیویارک ټایمز لیکلي افغان ملبشه ځواک، چې (سي آی اې) یې ملاتړ کوي، په وروستیو کلونو کې د پاکستان په خاوره کې یوشمېر عملیات ترسره کړي دي.

د دوی عملیات پخوا د استخباراتي مالوماتو تر ټولولو پورې راالنډ وو خو راپور وایي چې وروستیو مرکو کې ښکاره کړې چې لږترلږه په یو مورد کې افغانانو د سخت دریځو پر یوه سلاکوټ برید وکړ او هغه یې ویجاړ کړ.

د محکمې له پرېکړې پرته د ...

وو چې ولسمشر په قانوني لحاظ دا واک نه لري چې د ملي شورا د پرانیستلو وخت بدل رابدل کړي.

له بلې خوا لویې څارنوالۍ ویلي دي چې دوی د انتخاباتو له کمیسیونونو څخه په ۲۳موردونو کې توضیحات غوښتي خو کمیسیونونو د هیڅ مورد ځواب نه دی ورکړی.

ویل کېږي چې د انتخاباتو کمیسیونونه چې د کابل په حکومت کې د متحدې ډلې له واکمن گروپ سره ارتباط لري، د وخت د ضایع کولو لاره خپله کړې ده او په دې هیله ورځې شېې تیروي چې د ولسي جرگې د پرانیستنې نیټه راورسېږي.

د شناندو په قول د څارنوالۍ د یوه مقام دا وروستی څرگندوني شاید د خلکو همدې اندېښنو ته په ځواب کې شوې وي. البته، دا لا معلومه نه ده چې څارنوالۍ به د متحدې جبهې د پیاوړې ډلې په مقابل کې چې د نظام اکثره اداري یې په کنټرول کې دي، څومره مقاومت وکولای شي.

د یادولو وړ ده چې د شکایتونو د کمیسیون د تحقیق د چارو مشر امان الله تجلي د فدرالیزم او پارلماني نظام د معروف پلوي ډاکترمهدي ورور دی او د وکیلانو د سرنوشت په باره کې د فیصلو اساسي نقش ده ته سپارل شوی و.

صد ها ملیون دالر امریکا از ...

افغانستان بنابر موجویت فساد و نبود سیستم عدلی فعال، به سوی طالبان رو آورده اند.

جنرال متقاعد آرنولد فیلدز سرمفتش خاص امریکا برای امور بازسازی افغانستان پیش از این در ماه جنوری گفته بود که مصارف آنها در این کشور مایوس کننده است و پروژه های فعلی امریکا در افغانستان با موانع روبرو خواهد شد.

دفتر آرنولد فیلدز به طور خاص از ضایع شدن کمک های امریکا در بخش شبکهء برق افغانستان انتقاد کرده بود.

او هم چنان گفته بود که مصارف آنها بخاطر وضعیت امنیتی و نظارت امریکا از مشکلات موجود در پروژه ها افزایش می یابد.

در گزارش آرنولد فیلدز هم چنان آمده بود که حکومت افغانستان در بخش انکشاف انرژی پلان واضح ندارد و از جانب دیگر برای ادامه و حفاظت از پروژه های فعلی، از مصرف کننده های انرژی محصول گرفته نمی تواند.

امریکا په افغانستان کې د ویتنام په ...

د ورانولو لپاره داسې وسلې هم استعمال شوې ، چې د سلو گزو په شعاع کې یې هر څه له منځه وړي. په دې توگه جنرال پتریوس له کورنوسره ونې اوپټې هم له خاورې سره سم کړل. گزارش وایي، چې که له یوې خوا جنرال یوڅه پرمختگ کړی ، خو له بلې خوا یې د سیمې خلک د امریکایي ځواکونو پروړاندې نورهم پارولي او طالبانو ته یې نږدې کړي. رسنی وایي،چې د جنرال پتریوس تاکتیکونه سړي ته هغه وحشت وریادوي ، چې امریکایي ځواکونو به له هغو څخه د خپلې ماتې په درشل کې په ویتنام کې کار اخیست.

امریکا یک "شبکه گسترده ...

اطلاعات خود اداره بازجویي فدرال امریکا را تقویت کنند. "اف بي آي" طرز بازجویي خاص خود را دارد.

براساس گزارش واشنگتن پوست، این شبکه جاسوسي شامل ۴۰۵۸ سازمان فدرال، دولتي و محلي مي باشد که هر یک وظایف ضدتروریستي و قضایي خود را دارد.

به نوشته واشنگتن پوست، از سال ۲۰۰۱ به این سو دست کم ۹۳۵ سازمان از این نوع تشکیل شده اند.

این گزارش نشان مي دهد که تکنولوژي و تخنیک هایي که براي استفاده در میدان هاي جنگي عراق و افغانستان ساخته شده بودند، به دست سازمان هاي تحکیم قانون (امنیتی) در ایالات متحده امریکا نیز رسیده است.

برعلاوه، گزارش واشنگتن پوست مي افزاید که اداره بازجویي فدرال ایالات متحده امریکا بانک اطلاعاتي ایجاد کرده است که در آن نام و مشخصات فردي هزاران شهروند و باشنده ایالات متحده امریکا درج شده است.

این بانک اطلاعات براي شمار رو به افزایش پولیس محلي و بازجویي جرایم جنایي قابل دسترس است.

در اقدامي براي آنچه تهدید اسلام افراطي پنداشته مي شود، تعدادي از نمایندگي هاي تحکیم قانون (امنیتی) افرادی را که دیدگاه هاي افراطي شان از اسلام و تروریزم غیردقیق تشخیص شده، به حیث آموزگار استخدام کرده اند.

به گزارش این روزنامه، سنجش میزان بودیجه این شبکه جاسوسي کار مشکلي است. اما وزارت امنیت داخلي ایالات متحده امریکا از سال ۲۰۰۳ به این سو ۳۱ میلیارد دالر به حکومت هاي محلي داده است تا ظرفیت هاي خود را در جستجوي تروریست ها و محافظت در مقابل آن ها، ارتقا دهند. تنها در سال روان این وزارت ۳.۸ میلیارد دالر به نمایندگي هاي تحکیم قانون (امنیتی) پرداخته است.

در بین مبارزات مردم افغانستان ...

بر اساس گزارش روزنامه الوطن چاپ ریاض، ترکي الفیصل سفیر سابق عربستان در واشنگتن، در مراسم مربوط به "اقدامات عربستان در خدمت به جهان اسلام" اظهار داشت: ملت و دولت عربستان به ملت افغانستان علیه لشکر کشي اتحاد جماهیر شوروي کمک کردند.

وي در ادامه افزود: مسئولین عربستان بین جهاد مشروع و دفاع از وطن با تروریزم و اقدامات جنایتکارانه تفاوت قائل هستند.

الفیصل همچنین تاکید کرد: افغانستان اولین کشوري بود که عربستان را در زمان تشکیلش به رسمیت شناخت. عربستان از ملت افغان تا زمان خروج نیروهاي اتحاد جماهیر شوروي حمایت کرد.

وي در ادامه افزود: مسئولین عربستان بر مذاکرات و تلاش هاي صلح بین گروه‌هاي مجاهدین افغانستان نظارت داشتند و تا زمان آغاز درگیري‌ها بین این گروه‌ها به تلاش خود ادامه دادند..

وي در ادامه افزود: با اطمینان کامل مي گویم چسباندن نام جهاد بر اقدامات تروریستي اتهامي باطل است. آزادسازي افغانستان از اشغالگران اتحاد جماهیر شوروي اقدامي نیک و پسندیده بود، اما بحث تروریزم خارج از جهاد قرار مي گیرد.

الفیصل هم‌چنین تاکید کرد: مجاهدین افغان در دوره تجاوز روس ها به عربستان گفتند که نیازي به نیرو ندارند. پاکستان و امریکا در آزاد سازي افغانستان سهم داشته‌اند.

افغانستان د نړۍ والو رسنیو په هنداره کې

نړیوالو چاپي خپرونو هر یو امریکایي میامي هیرالډ ورځپاڼه او نیشنل انټرسټ خپرونې په خپلو مطالبو کې د افغانستان په اړه ځینې موضعات خپاره کړي چې د شهادت درنو لوستونکو ته یې وړاندې کوو.

نیشنل انټرسټ:

د نیشنل انټرسټ یا ملي گټو په نامه له امریکا خپرېدونکې نشریې تردې عنوان لاندې چې په افغانستان کې د پوښتنو لپاره د ځوابونو لټون د پاکستاني مشهور لیکوال احمدرشید یوه مقاله خپره کړې ده.

خپرونه لیکي: لکه څرنگه چې تمه کیده د افغانستان او پاکستان په اړه د امریکا د ستراتیژۍ پټه ارزیابي چې تیره اونی یې رپوټ خپور شو ډېره له احتیاطه ډکه او بې خونده ده.

احمد رشید لیکي: که چېرې امریکا په افغانستان اوسیمه کې بدلیدونکې او ستونزمن حالت سره مقابلې ته ځان برابر کړی وای نو کېدای شي د دغې ارزیابۍ پټه برخه لا ډېر مطالب ولري.

نشریه لیکي، چې د دغې ارزیابۍ رپوټ چې په پنځو پاڼو کې لیکل شوی دی وایي چې د القاعده او په افغانستان او پاکستان کې د وسله والو مخالفینو ضد جنگ کې پرمختگ شوی خو گواښونه شته اولاس ته راوړنې ټینگې او دوامداره نه دي.

ارزیابي وایي، چې هغو دیرشو زرونو یو امریکایي عسکرو چې سږکال افغانستان ته واستول شول د هېواد په جنوب کې د طالبانو مخه نیولې ده.

او له پولې پورې غاړه پاکستان کې هم د القاعده شبکې د مشرانو خلاف امریکایي بریدونه په بریالیتوب روان دي.

خو ارزیابي خبرداری ورکوي چې د طالبانو خلاف لاس ته راوړنې کېدای شي بیرته په خټ شي.

نشریه لیکي، چې د امریکا ارزیابي وایي چې روانه ستراتیژي د راتلونکې کال په جولایي کې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو وتلو ته لاره برابروي خودا تفصیل په کې نشته چې څومره شمېرعسکر به له کوم ځای ستانه شي.

امریکایي میامي هیرالډ:

امریکایي میامي هیرالډ ورځپاڼې هم په افغانستان کې د جنگ د ستراتیژۍ د ارزیابۍ په اړه یو مطلب خپور کړی دی.

ورځپاڼه لیکي سره له دې چې ولسمشر اوباما کوښښ وکړ، چې په افغانستان کې د جنگ د ستراتیژۍ ارزیابي ته مثبت رنگ ورکړي خو په خپله ارزیابي په مناسب وخت او لگښت په افغانستان کې د امریکایي اهدافو د ترسره کولو دومره لویه هیله نه رامنځ ته کوي.

ورځپاڼه لیکي، چې ولسمشر اوباما وویل، چې ستراتیژۍ روغ لوري ته پرمخ روانه ده او د القاعده او طالبانو خلاف د پام وړ بری تر لاسه شوې چې ځیني نښې او علایم یې هم شته خو د ارزیابۍ رپوټ دا هم وویل، چې لاس ته راوړنې کمزورې دي او چیلنجونه شته.

میامي هیرالډ لیکي، چې د افغانستان د جنگ په اړه چې د امریکا له ټولو اوږد جنگ گڼل کېږي د شکونو پیدا کېدل څه پټ رمز او معما نه ده، د افغانستان بې کاره حکومتداری په خپله د پرمختگ مخې ته خنډ گڼل کېږي.

په دولتي ادارو کې پراخه فساد لیدل کېږي،هېواد موثرعدلي قضایي نظام نه لري او په خلکو کې د دولت ملاتړ هم دومره پراخه نه دی.

میامي هیرالډ لیکي، چې ولسمشر اوباما په دې ارزیابۍ کې په دې ټینگار وکړ، چې امریکا د راتلونکي کال له جولای میاشتې سره سم په افغانستان کې د خپلو ځواکونو مسوولانه کمول پیلوي، اوباما دغه پیغام خپل ولس او د افغانستان ولسمشر حامد کرزي ته ورساوه.

وهاج روغتون
شفاخانه وهاج

Wahaaj Hospital

اولین ورکشاپ لپرسکوپی و هیستیروسکوپی توسط متخصصین هندی

روز جمعه مورخ 3 جدی 1389
Friday 24th Dec. 2010
ساعت 8:30 صبح

محل:
شفاخانه وهاج - مقابل سفارت سابقه انگلستان، نزدیک لیسه نادریه، کابل

تیلفون:
0799328317
0799080402